مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـــی ناروغ

۲۰۲۱/۰۲/۰۹

# فـــرعـونـــی وبــاه

دلـــته نـا ښـاغلـي پـــه نیرنـــګ بـــانـــدې ښـــاغـلي دي
څــوک یـي د فرعون، څوک د ابلـیس پر پله راغـلي دي

دلـــته انســـانیت پـــه تـورو کـــندو کـــي سـلګی وهـــي
بـــوی د کثـــافت دی چـــی تـــر عـــرشـــه رســـیدلـــی دی

دلـته پـــه حجــرو کـي ناریـنه پـه سترګـو نـه ښـکاري
څـوک یي سر پـه دار، څوک یي لـه ښار ځخه شړلـي دي

دلـــته پـه دوسـتۍ کـي د ابلـیس صحـنه سـازي ګـــوري
یـــو یـي په ډالر، بـل پـــه قـــرآن بانـدې تـــومبلـي دي

دلـــــته پـــــه سیـــنه کـــي د مـــور پـی د وینـو دارې دي
ځـاځي یـي لـه سـترګـو، چا چـي غـیـره کـي رودلي دي

دلـــته آرمـانـونـــه پـــه فـــکرونـو کـي وراسته ښکاري
چـا نـــه یـي پــه زر، چـا نـــه پــه زور بـانـدې ایستلي دي

دلـــته د رنځـــونـو طبـــیبان پـــه رنـــځ اخـــته ښـکاري
څوک یـي بې عزت، څـوک پـه غربت بـانـدې زبېښلي دي

ولـــی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ